# نن ورځ خپل د هیپاتیت بی (HBV) واکسین ترلاسه کړئ




**دا واکسین مو د کومي ناروغی پر وړاندې ساتنه کوي؟**

د هیپاتیت بی انتان څخه ساتنه کوي.

- **هیپاتیت بی** د ځیګر یو انتان دی چې د هیپاتیت بی ویروس له امله رامینځته کیږي. د ۱۰ کسانو څخه ۱ کس چی په هیپاتیت بی اخته کیږي یو داسې انتان رامینځته کوي چې ژر له منځه نه ځي (مزمن انتان). د هپاتیت بی مزمنه انتان کولی شي د ځګر د خرابوالي (سیرروسس) ، د ځګر سرطان او مړینې لامل شي.
- هپاتیت بی د یو ناروغ د وینې او د بدن مایعاتو سره د تماس له لارې خپریږي.لکه د زیږون، د ستنو شریکولو، پاکي یا پل، د نوک تراش، یا د غاښونو برش، د هغو وسایلو سره اړیکې د لارې چې په سمه توګه نه وي پاک شوي (لکه ستنې چی د خال وهلو او د غوږوالیو یا پیزوان لپاره پکاریږي)، جنسي اړیکې او داسې نورو له لارې خپریږي.



**څوک باید دا واکسین ترلاسه کړي؟**

- دا واکسین د ښوونځیو د معمول واکسینونو مهالویش د پروګرام د یوې برخې په توګه د شپږم ټولګي زده کونکو (11-12 کلنی) ته تطبیق کیږي.
- د نهم ټولګي زده کوونکي (د 14-15 کلن) چې په خپل وخت یی دا واکسین نه وي اخیستی هم کولی شي په ښوونځیو کې یی ترلاسه کړي. تاسو باید دا واکسین ضرور ترلاسه کړئ که تاسو د ځانګړي روغتیا ستونزو له امله د هیپاتیت بی خطر سره مخ یاست، یا د کار ډول او داسې نور.

**څوک باید دا واکسین ترلاسه نکړي؟** تاسو ممکن دا واکسین ترلاسه نه کړئ که تاسو د دې واکسین یا ورته واکسین د یوې برخې سره حساسیت یا وروسته جدي/غیر معمولي جانبي عوارض یا بدي اغیزي ولرئ. دا په دی معنی دا چي ډیری زده کوونکي په البرټا کی ددی واکسین لپاره اجازه لري.



**د دې واکسین جانبي عوارض څه دي؟** بدي اغیزی یی خورا عادي او لنډمهاله دي، لکه د ستنی یا پیچکاري ځای کې سوروالی، پړسوب، درد ، سټړیا ، سر درد ، تبه ، د اشتها ضعیفوالی ، د زړه بدوالی یا خوا ګرزیدل، کانګې ، د معدې درد او داسې نور شامل دي. جانبي عوارضو د اداره کولو لپاره د د پیچکاري یا ستنې ځای کې د یخ ، لوند ټوکر څخه کار اخیستل، او د تبې یا درد سره د مقابلې لپاره د ibuprofen یا acetaminophen په څیر درمل اخیستلی شو.

---

## که تاسو کومي اضافي پوښتنې لرئ یا غواړئ خپل واکسین واخلئ؟ تاسو کولی شئ:

- د روغتیایی خدماتو ۸۱۱ شمیرې سره اړیکه ټینګه کړې.
- د نوي راغلو خلکو لپاره د څو ژبو روغتیا مرکز ته په 587-392-8062 شمیرې اړیکه ټینګه کړې.
- د خپل کورنی ډاکټر یا د لومړني صحي خدماتو مرکز سره اړیکه ونیسئ.

AIMGA Alberta International Medical Graduate Association

19 TO ZERO UNITED AGAINST COVID-19

*Financial contribution:*

Public Health Agency of Canada / Agence de la santé publique du Canada

ACTION 4 HUMANITY DEVELOPMENT FOUNDATION CREATING BRIGHTER FUTURE